سلګی ناول
دداسی خکلو ناولونو لپاره د
سادات کتابتون سره ځانونه
جوین کړی.
اویا هم ماته وټساپ کی مسیج
وکړی.

0731363201-

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

[7/31, 20:42] Sadat:



(c) ketabton.com: The Digital Library

سلګۍ ناول

# راتلوونکی

# سیدادریس"سادات":

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړۍ برخه

سادات.. اډمين

.زموږ ډير ښايسته کلی و تقريبا موږ به پنځه سوه کوره وو

ما يو دوکان په کلي کې جوړ کړی وو .ما به چې د سهار لمونځ وکړو لږ
وروسته به دوکان ته تلم ځکه خلکو به د سهار چاې لپاره راځخه شيان
اخيستل کله به چې نه وم کليوالو بـــه زنګ راته وهه ويل به يې ګلابه سودا
مو پکار ده دوکانداري مـــې ډيره ښه پر مخ راونه وه ځکه ما پر مناسب
بيه سودا خرڅوله

نو زما دا دوکانداري تر يو کـــال رسيدلې وه يوه ورځ پر

لاره روان وم سهار وختې وو چې خرپ شو .چې ور پام مې

کړو يو پاکټ زما مخې ته پرېوتی را وامې خيستې او دوکان ته لاړم دوکان
مې خلاص کړو خلک هم راغلل سودا مې ورکوله چې ګورم هغه پاکټ مې
لاست راغې او هغه مې په يو سم ځای

کې کيښوده ما ويل وروسته بـــه يـــــې وګورم زه پر

دوکانداری باندې مصروف شوم د غرمې دولس بجې شوې

مور مې راته له کوره ډوډۍ راليږلې وه هغه مې وخوړله لږ

وروسته زما يو ګران ملګری داود راغي داود و ويـل ګلابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلام ما اویل وعلیکم سلام داوده ښه شو چې راغلې داود

راته و ویل ګلاب څنګه دې دا پوښتنه وکړله ما وویل هسې

د لمونځ وخت دی ته دوکان کې کینه زه به لمونځ وکړم

چې راغلم ته بیا لمونځ ته لاړ شه داود وویل ښه دغه خبره

ده ما وویل هو لمونځ قضا نشي نور نو لاړم او مخ پر

مسجد لمونځ مې وکړو دوکان ته راغلم داود مې هم لمونځ ته ولیږو یو ماشوم راغی ویل ژاولې راکه ما هم ژاولې ورکړی چې په هغه پاکټ مې بیا سترګې ولږیدې پاکټ مې ژر پرانیست ګورم یو لیک چې زړه هم پکې رسم شوای او غشی ترې وتلې دی لاندې ترې لیکلې وو نــه پوهیږم ته انسان یې که کوم بل څه چې نه دې وینم ډیره خوابدې یم چې د مور مې را باندې نظر شي وایې لورې ولې داســـې یې ناروغه یې زه ترې ځان په یوه بهانه بله بهانه خلاصه کړم نه پوهیږم تا پر ما کومه جادو کړی ده بې تا ژوند راته سخت دی )مینه (درسره لرم زه حیران پاتې شوم ژر مې لیک په یو خوا بله خوا واړوه راواړوه خو هیڅ مې هم پیدا نکړه نه پوهیدم چې چا لیکلی او چاته یې لیکلی دی زه هم نور پسې ونه ګرځیدم خپله دوکانداري به مې کوله مازدیګر به ډیر ځوانان دوکان ته راتلل ټوکې او ټکالی به یی کولې زما به هم ښه ساعت ورســـره تیـــر وو ان تر ناوخته بـــــه دوی راســـره وه .ما به تل سپینې جامې اغوستې وی او واسکټ زما نه و خوښ نه مې اغوسته تک سپین کالې یو دسمال به راسره وو ګرځیدم به نو په دغه خاطر به ملګرو قارې صـــاحب راته ویل زه هم په قارې

صاحب مشهور شوم چا به چې زما نوم یاد کړو نورو به ورته

ویل کوم ګلاب هغه قارې هغوی به ورته ویل هو هماغه ګلاب

نو ماشومانو به هم ویل قارې صاحب دا راکه او هغه راکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک نه یوه جمعه تیره وه دوکان ته روان وم یوه کوڅه وه

یو ښایسته کور وو تقریبا بنځوس متره زموږ له کوره لرې

وه شنه دروازه یې وه .خرپ شو له دروازې نه پاکټ را

وار شو پاکټ مې جیب ته کړو او لاړم دوکان مې را

خلاص کړو سودا مې ټوله سره سمبال کړه او چاى مې ځان

ته کیښوده چاې مې وڅښلو د دوکان سودا ډیره کمه وه

قلم او کتابچه مې راواخیسته او لیست مې د سودا برابر کړو اته بجې وې
داود پسې مې زنګ او وهلو زنګ تیر شو

لږ وخت نه وو تیر له هغه خوا داود وویل سلام ګلابه څنګه

دې په دا شین سهار زنګ را اوهلو ما ورته وویل پـــورته شه

غرمه ده ویل یې خـــیر خـــو ده ګلابه ما ویل هو زړګیه

ته خوبه کار نه لرې ویل کار څنګه نه لرم خو ته دې خبره کوه

هغه زما ډیر کلک او پوخ ملګرى وو ځکـــه ما به چې هرڅه

ورته ویل نه به یې نه ویل نو ما ورته وویل داوده سودا کمه

ده زه ځم سودا پسې ما ویل که ته دوکان کې کینې زه به

سودا راوړم هغه وویل سمه ده درځم زه په سودا پسې ښار

ته لاړم ماسپښین بیرته کلې ته راغلم دا ورځ تیره شوه د شپې مې جیب ته
لاس کـــړو او پاکټ مې را خلاص کړو ګورم په ښایـسته رنـــګ یې دا
👇.بیتونه لیکلې وه

سکون مې تللى مکـــمـــل درســـره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه چې ستونزه می شي حل درسره

لاس د یاری راکړه راځه جـــانـــــه

په هره لاره کـــــــــــړم مـزل درسره

نو دومره خوندیې راکړو چې تر قیامته به یی هیر نه کړم او نه به زما له یاده او اوځـــــې ځکه په اول وار داسې ښایسته

لیکنه لولم ډیر خوند یی راکړو هر وخت مې ویلې او خوند به مې ترې اخیستو نو له بیتونو وروسته یې په سور خط لیکلې وه .ګلابه هیله لرم چې روغ او جوړ به یې او ښه خوشاله ژوند به لرې زه درسره دومره مینه لرم چې د کندهار غرونه ورته هیڅ هم ندې نو له تانه یوه کوچنۍ هیله کوم هغه دا زما مینې ته په سپکه ونه ګورې او بله خبره داچې زه کومه کوڅه ډبه نه یم بلکې ته به مې ډیر ژر وپیژنې چې زه څوک یم .وروستیو کې یې لیکلې وه )سلګۍ (ما نه پیژندله ځکه ما یوې ښځې ته هم نه وو کتلې نو په فکر کې شوم او ځان سره

به مي ویل سلګۍ ها سلګۍ به لا څوک وې او ما سره مینه

---

سلګۍ ناول :Sadat [7/31, 20:42]

دو همه برخه

پــه هر صـــورت شپې او ورځې تیر ی دې یوه ورځ چې

دوکان ته روان وم هغه کــــورته چې ورســـېدم هغه شنه

دروازه چې وه د تیرېدو په حال کې وم راباندې غږ وشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ښځينه ښايسته نرم غږ وو .وېې ويل اې اې ګلابه !شاته مې چې ور وکتل ګورم يوه جلۍ په دروازه کې ولاړه ده زه تش قلبوت ولاړ وم حــيران وم چـــې دا څـــه کيسه ده.

د پنځلسمې سپوږمۍ په شان ځهره او دساقې د جامونو په څير غټې بادامې سترګې د سپرلې د غوړيدلو ګلابو غوندې سرې شونډې د ښکارې غشو ته ورته تيره تيره بانه لکه د کنړ د نخترو پشان دنګه ونه ځواني يې د سترګو په چوکاټ کې لکه ګويا تصوير نځيده زه ډير ورختا شوم ما ويل هسې نه څوک مو و وينې هغې راته ويل چيرته دومره په بيړه روان يـــې زما ژبـــه بنده بنده کېده ورته مې و ويل زه .زه دوکان تـــه روان يم هغې خوږه مسکا وکړه ويې ويل مه ورختا کيږه په دې شين سهار څوک نشته خو ما ورته وويل زه هم زمه بيا بـــه وروسته سره غږيږو هغه لا ولاړه وه زه ترې روان شوم او لاړم او هغه تر ډيـــــره ماپسې کتل خداې خبر نوره بـــه لا څومره ولاړه وه زه ترې پناه شـــوم دوکان ته چې لاړم او دوکان مې راخلاص کړو .خلک به راغلل هر يو به جلا جلا راته ويل ګلابه دا رنګ دې ولې داسې زيړ دی ما به ورته بهانه کوله ويل به مې هسې لږ په خوب کې ويريدلی يم .يوه ورځ په دوکان کې ناست وم څلور

ملګرې مې راغلل له سترې مشې ورسته يې راته وويل ګلابه موږ چکر ته روان يو او ته هم موږ سره لاړ شه ما ورته وويل څنـــګه چيـــرت ځۍ او زه څنګه لاړ شـــم دوکان چاته پريږدم وې ويل بې له تا چکر خوند نه کوی هتما به موږسره ځې زه حيران شوم ښه اوس دوی سره څه کې ډير يې مجبوره کړم ورته مې و ويل ښه تاسو دلته کينی زه راځم زه لاړم سيده مې د ورور کور ته زما يو وراره و تقريبا د نهو کالو و نوم يې شفيق و ورنارې مې کړې ورته مې و ويل شفيقه وه شفيقه .شفيق وويل ګلاب کاکا څه دې ويل ورته مې وويل هله شفيقه ته دوکان کې کينه زه يو چيرته کار لرم شفيق مې ځان سره کړو او دوکان ته روان شو .ملګرې راته انتظار وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د یو ملګرې موټر راورسیده .عینو مینې ته لاړو تقریبا یــو ساعت مو چې تیر شو زما یو ملګری چې نجیب نومیده هغه مونږ لیدلي وو هغه راغی او مونږ سره یې روغبړ وکړو وې ویل راځی زما کـــور دلته نزدې دی چای به وڅکو بیا ستا سو زړه چې هر څه کوی.ما وویل یاره نجیبه ولې مو په عذابوی خو کور دې نزدی دی ورشه دلته یې راوړه وې ویل سمه ده زه ځم او دلــته یې راوړم هغه چې لاړو ماته یو زنګ راغی زما عادت و زنګ به چې راغې زه لرې له ملګرو تلم نو زه پوره پنځوس متره لرې لاړم زما یو ملګرې له کابل څخه زنګ وهلی و ویل زما د ورور واده دی راشه ما ورته ویل سمه ده إن شاء الله که د اللهﷻ

رضا وه درځم به نیم ساعت مو سره خبرې وکړې بیرته چې راتلم دوه انجونې ولاړې وې خرپ شو کاغذ راوار شو زما په تندې ولیګدو ومې کتل لیکلې وه سلام دغه زما نمبر دی هیله کوم یو زنګ را اوهه ځان سره مې وویل د څه لپاره زنګ در ووهم کاغذ مې ځان سره واخیست لږ چې له هغه ځای څخه لرې شوم کاغذ مې ټوټې ټوټې کړو او ایسته مې واچوه ما ویل هسې نه بل چاته په ګوتو ورشې بیا به یې په عذاب کې .د ملګرو خواته چې ورغلم هغه نجیب چاې هم راوړی و او ټول ماته انتظار و چای .مو واخیست او ښایسته چمن باندې ســـره کیناستو او چای مو سره وڅکه چې زما زړه ته سلګۍ راغله او په ژور فکر کې لاړم ملګرو راباندې غږ وکړو ګلابه وا ګلابه څه خبره ده داسې چورتې رامعلومیږی ژر مې ورته وویل نه هسې مې ددې پارک ننداره کوله تر مازدیګره مو ښه ساعت تیر کړو بعد له مازدیګره مو د کور او کلي لاره خپله کړه او کورته لاړو او د سلګۍ فکر راسره مل شو هغه خبر مې نه هیریږې ویل یی زه سلګۍ یم ګلابه مینه درسره لرم خو ما مینه نه پیژندله نن زما په سترګو کې سلګۍ اوخته را اوخته هیڅ خوب مې په دغه شپه ونه کړو سهار لمونځ ته لاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته چې راغلم مور مې راته وویل ګلاب زویه څنګه یې د شپې دی د کوټې ګروپ لګیدلی وو .ناروغ یې که څه بله کیسه ده حیران

پاتې شوم چې اوس مور ته څه جواب ورکړم له ډیر فکر وروسته مې وویل نه موري لږ سر مې په درد وو ویې ویل رنګ دې هم بدل شوی ما وویل هیڅ خبره نشته سې مې سر درد کوي ښه سمه ده کـــه کومه بله خبره وي راته یې اوایه ما وویل بله خبره نشته کنې له تا به یې ولې پټوم نور مور مې لاړه.

.د دوهمې برخې پای

.د نورو برخو لپاره راسره پاتې شی

لایک او کمنټ مو هیر نه شي ترڅو موږ هم پاتې برخې په خوښی سره نشر کړو.

کله چې تاسی په پوست لایک او کمنټ نه کوی نو موږ هم مایوسه کیږو او .د بلې برخي د خپریدا ذوق نه وي

.مننه په لومړۍ برخه کې له تشویق څخه مو

[7/31, 20:42] Sadat: سلګۍ ناول

دریمه برخه

سادات :اډمین

---

زه لــه کـــوره او وتم او دوکـــان تــه روان شـــوم کله چې دسلــګۍ کورته ورسیدم نو هغې را غږ کړو اورو یې وویل ګـــــلابه یوه دقیقه، زه ودریدم هغه رانزدې شوه ویې ویل نــن شپه غـــواړم زموږ پـــه بـــاغ کې درســـــره ووینم ما وویل سمه ده خــو څنګه به سره یوه شو وې ویل زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بــــه پر لسو بجو درته په باغ کې اتنظار کوم، ما ویل ښه سمـــه ده وعده مو لس بجې کیښوده او زه ترې روان شوم اوس نه پوهیږم چې زه په ځمکه روان یم که پر اسمــــان داسې په سوچـونو او فکرونو کې غـــرق وم بلاخیره دوکــان ته

را ورسیدم، نــن ورځ رابانـــدې ډیره په فکر کې تیره شوه

مـــاسختن شو لسو بجو ته یواځې لس دقیقې پـاتې شوې دوکان مې قــــلف کړو او په فکرونو کې غرق روان وم مـا ویل ښــه هلکه ګلابه که څوک پوه شي خلک به څه وایي، وایي به قارې صاحب داسې کارونه کوې له پردیو جــــونو سره تارونه غزوي عزت خو به دې خاورو سره خاوري شي تګ ته مې زړه نه ښه کیـــده .خو بیا مې فکر وکړو چې تا خو د هغه سره د ورتلو وعـده ایښې وه هـــغه بـــه انتظار وي، حیران وم چې اوس څه وکړم اخـــر مې فیصله وکړه راځه چې هرڅه کیږي باغ ته ورشه، په فکرونواو سوچونو کې بـــــاغ ته ورسیدم دروازه خلاصه وه، ور ننوتم او :ورو مې غږ کړو، سلګۍ وه سلګۍ، ډیره په خوږه ژبه یې راتـــه وویل ګلابه راځه زه دلته یم ورغلم زړه مې ســم درببدو ورنزدې شــــوم .په لومړي ځل ماسره جلۍ په غیږه روغبړ وکړو او له روغبړ څخه وروسته راته مخـــــــامخ کیناسته او داسې راته وویل ګـــلابه له یو کـال راهیسې زه درسره مینه لــــرم او درباندې مینه یم او چې ودې نـــه وینم نو ټولـه ورځ خواشینې یم کله چـــې دې ووینم نو ټوله ورځ راباندې لکه د اختـر ،تیریږي ما ورته غوږ ایښې وو او هغې لکه د شـــاتو خوږې خبرې کولې زیاته یې کړه او ویې ویل

پوره یو کال ما ستا انتظار کړې او د دروازې تر شا به مې تاته کتل زه ډیره کم جراته وم چې د خپلې مینې اظهــــار تاته وکـړم، خــو هـرڅه مې په 👇خپل زړه تیـــرول چاته مې نشو ویلې لکه دغه لنډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مي ديـــدن شي نــه مې صـــبر
په غم لړلې يارانيې ستړې دې کړمه
نـــــه يې ديـــدن شـــي نــه يې صبر
مئينه شوې جلکــۍ تل کوي ويرونه
ځنګه نــاڅــاپه را پــــه زړه شـــوې
داسې ناڅاپه دې خــداى راوله مينه

له لنډيو روسته يې زما غېږ ته ځان را واچوه لکه ماشومه راته په سلګو شوه ما ورته د ډاډ ورکولو کوشش وکړو خو هغې په ژړا ښه زړه سپـــک کړو، بيا يې وويل ګـــلابه زه درسره وعده کـــوم چې له تا پرته به بل چا سره واده ونه کړم يواځې به له تا سره خپل ژوند شريکوم، يـــا به ستا کور تـــــه په سره ډولۍ کې درځم او يا به ستا پرته تورو خاورو تـه ځم .د دې خبرو په اوريدو زما له سترګو لکه د باران اوښکې رواني شوې، د اوښکو سره مل زما له خولې ورته دا خبــــرې را اووتې، چې زما دې هم په هغه اللهﷻ قسم وي چې زه او ته يې پيدا کړي يو زه به هـــم بې له تا بلې جلۍ سره واده ونه کړم، يا به زه له تا سره واده کـوم او يا به هيڅ په ژوند واده ونه کړم.

بس د دواړو مــــينه له هم دې ځـــاى څخه يــو بـــــل ته د اظهار په کولو شروع شوه، له دې شپې وروسته به مو هره ورځ وخت نا وخت سره ليدل لــــه يوې ورځې بلې ورځې ته مو مينه زياتېده، چې سره به مـــو نه ليدل هغه ورځ او شپه به په موږ. دواړو لکه د کال تيريده.

يـــ وه ورځ زما د مـــامـــا د زوى واده وو، مور مې او ټوله کورنۍ لاړو هلته، چې لاړو سم د لاس مې په کـــار شروع وکړه کار مې کوو چې ماما مې راته غږ. کړو ګلابه وا هلکه ګـــلابه !مـــا وويل مـــامـــا وايه اورمه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ویې ویل ورشه زموږ کور ته او پټــنوس راوړه ما انکار وکړو او ومې ویل مـامـا هلته د کلي ټولې ښـځې دي، زه څنګه هلته لاړ شــم ماما مې راتـه پـــــه غوصه وویل کوچني مـــاشوم خو نه یې ورشه له دروازې دې مور ته ور غږ کړه، وړته اوایه هغه به یې درکړي، زړه نا زړه ور روان شوم.

د دریمې برخې پای 👈 څلورمه برخه ډیر ژر

.

Nasirullah Fazli ⃞ مننه فالو مي

[7/31, 20:42] Sadat: سلګۍ ناول

څلورمه برخه

سادات :اډمین

❤️❤️❤️❤️❤️

کور ته چې ورسیدم او دروازې تــــه چې ورنږدې شوم

غږ مې وکړو، مـورې وه مورې .لږ وخت نه وو تیر شوی چې له هغې خوا یو پوست او نرم اواز راغي ما ښکته کتل ویې ویـــل :ماشوم خو نه یې چې مور ته چغې وهې وشرمیدم د سترګو لـــه کونجه مـې غلې ور وکتل ګورم چـــې )سلګۍ (ده، نو ویې ویل ته ولې کار کوې ما وویل څنګه کار ونه کړم خلک به څه وایــې چـــې د مـامـــا د زوی واده یـــې دی او دا کار نه کوې .سلګۍ خبره را غبرګه کـړه او ویې ویل کالي دې هم چټل کـړي دي. ورته مـــې وویل خیر دې نور نوي کالي مـــې هم راوړې دې، بیا مې له ځان سره هغې ته په کتلو ورو وویل څومره ښایسته شوې یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلګۍ زما خبره واوریده ویې خندل او پـــه خندا کې یې وویل .سترګې دې ښکلی دي .بیا یې وویل زر کوه خبره دې وکړه ځنګه راغلي یې، ځوک را نه شي په خندا مې ورته وویل خواښې ته دې )مور ته مې (اوایه چې ګلاب درته غږ کوي .هغه هم په دې خبره لږ موسکۍ شوه او په شرمناکه لهجه یې او ویل سمه ده، هغه لاړه او زما زړه هم ورسره لاړ .خو په هر صورت ځو شیبې لا نه وی تیرې چې مور مې را غږ کړو، وې ویـــل ګلابه زویه څه خبره ده

څه دې ویل، ورته مې وویل ماما مې پتنوس غواړي، مور مې وویل ښه ته ودریږه زه یې درته راوړم ، له لږ ځنډ وروسته مې مور پتنوس راکړو او بیرته د نارینه وو ځای ته راغلم .د دیګونو د پخلي او نارینه وو ته د ډوډۍ ورکولو ځای له همدې کوره لږ وړاندې یو د کلي سرای کې وو، او د ښځو ځای مې د ماما په کور کـــې وو هلته چې ورسیدم ماما مې په غوسه وویل: والکـــه ګلابه دومره

وخت ځوک تیروې چې تا تیر کړو وړوکې خو نــــه یې غټ سړی یې نور دې د ماشومتوب فکرونه له سره ځخه لرې کړه.

ما وویل ماما هلته هیڅ ماشومان نه وو چې کوم یو به مې په مشکل ور ولیږو هغه به هم ورک شو .اخر مې یوې سپین سرې ښځې ته وویل چې زما مـــور ته غږ کړه.

د ماما مې غوسه سړه شوهې وه ویل یې سمه ده راکه پتنوس.نو پتنوس مې ورکړو او ترې لاړم .یو کونج کې میلمانه ځوانان ناست وه ، زه هم خواته ورغـــلم ټول ودریده او

هر یو سره مې سترې مشې وکړه بیا ترې روان شوم د اشپژ خواته ما ویل که کوم څه یې ضرورت وې چې مرسته ورسره وکړم ، ډلې ډلې خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلل ډوډۍ شروع شـــوه له ډوډۍ وروسته زه حمام ته لاړم له حمام وروسته مې نوي کالي واغوستل او ورسره مې نوي بوټان  چې تور رنګ یې لره په پښو کړل.

بیرته د واده ځای ته راغلم خلک ټول را ټول وه، یوه غږ کړو وېې ویل هغه دې ګلاب هم راغي، له ورتلو سره یې له شاوو سره ودرولم او ځوانو اتڼ شروع کړو ، زموږ په ځوانانو کې دغه رواج وو چې په خلکو به یې زرک پاشل زما نه خوښیدل او بدې مې را تلل ،خو داود چې زما ښه او ماته ګران ملګرې وو  هغه د شاوو، په سر زرک پاشل

غلې یې زما په سر  هم را پاش کړه ما هم لــــه ډیرې غوسې ورته وویل داوده غوږ دې رانږدې کړه هغه په دې فکر چې زه به ورته کومه مهمه خبره کوم خپل غوږ را نزدې کړو، ما هم خپله خوله او د هغې غوږ د لاس په واسطه داسې پټ کړو لکه څوک چې چاته پټه خبره کوي،

خو داسې نه وو ورو شان مې د خبرې پر ځای د هغې پر غوږ غاښ ولګوو، داود چې له غیرته یې د خلکو تر مخه چغې نه شوې وهلې درد یې په چوپه خوله تیر کړو .په قهرجنې موسکا یې راته د بدلې اخیستلو اشاره وکړه، زموږ تر منځ داسې ټوکې عادي وې او د خفګان لامل مو نه کیدې.

په هر صورت ماما مې غږ وکړو هلې زر کوئ چې ناوې پسې لاړ شو ناوخته کږي.

ما ورته وویل ماما موږ تیار یو ښځو ته ووایه چې هغوی

هم تیارې شي .ماما مې وویل ښه سمه ده .ماما مې لاړو څو شیبې نه وې تیرې شوې چې ګلپوش موټر هم راغي .زما د یو ملګري موټر هم وو ما ویل زه به په هغه کې لاړ شم د شاوو پــــــه ډیر ټینګار زه هم په ګلپوش کې وختم او حرکت مو وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاره په مټر کې دغه سندره چالان وه چې ویل یې:

سپینې سپوږمۍ وایه اشنا به چرته وینه

ګونګۍ شوې ولې ګونګۍ شوي ولې نه وایې حالونه

سپوږمۍ په منځ د آسمان راغله

سپوږمۍ په منځ د اسمان راغله

هغه را نه غله ، هغه را نه غله چې یې زه په تمه ومه

ګونګۍ شوې ولې ګونګۍ شوې ولي نه وایې حالونه.....

ما سندرې نه اوریدې خو دغې سندرې داسې خوند راکړو

چې سندره به ختمه شوه بیا به مې پرې همدغه سندره را واړوله، ان د ناوې تر کوره مو واوریدله او د هر بیت د اوریدو سره به مې سلګۍ نیغه سترګو ته ودریدله.

هلته ورسیدو ټول له موټرو ښخه را ښکته شو ښځې ذ ناوې کور ته ننوتې، موږ نارینه یې بل ځای ته ویوړلو چې لویه حجره وه، له ټولو سره د روغبړ وروسته کیناستو او د چای ډکې پیالې مو تر مخې کیښودل شوې، د چای تر څښلو وروسته مو خدای په اماني واخیسته او بیرته د شاوو د کور پر لور روان شو.

نور نو واده پای ته ورسیده ټول خلک خپلو کورونو لاړل ما هم د ماما زوی حمید ته وویل درته دې مبارک وي، حمید وویل مننه ګلابه ، الله ﷻ دې تاته هم شایسته جلۍ په نصیب کړې ما ورته وویل امین په خوله دې برکت شه بیا مې ورته وویل تاته خو ښه معلومه ده دوکان مې بند دی ما ته اجازه راکړه زه به نور در نه لاړ شم، نه یې منله راسره له ډیر ټینګار وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې راته اجازه راکړه له ماما مــې هــم اجازه واخيسته او کور ته ترې راغلم.

---

ناول دوام لري راسره اوسئ تر څو نورې برخې هم ولولی.

پوسټ لایک کړئ او خپل انتقاد او نظریات مو راسره د کمنټ له لارې شریک کړئ .فالو مي Nasirullah Fazli

[7/31, 20:43] Sadat: ســـلګـــی نـــاول

پنځمه برخه

ادمين: سادات

❤❤❤❤❤

پر لار روان وم د ماښام اذان يې وکـړو نو سيده جومات ته لاړم او اودس مې تازه کړو، لمونځ ته په جمع سره ودريدو، له لمانځه وروسته مې لاس پورته کړو او

داسې دعا مې وکړه، یاالله اول ما وبښې، زما مور او

پلار اوبښې ......ډيرې دعاوې مې وکـړې اخــر مـــې په دعا کې دسلګۍ غوښتنه هم له پاکه ربه څخه وکړه او د دعا وروسته مې پاتې لمونځ پای ته ورسوو، او د کور په لور روان شوم،کله چې کور ته را ورسيدم مور مـــې راته غږ کړو وېې ويل ګلابه زويه راغلې ما وويل هـو مورجانې ،راغلم وې ويل راځه همدا اوس مــو يادولې ما وويل خيريت خو به وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل د پلار خواته دي ورشه چې ډوډۍ درته واچوم .ما وويل سمه ده
.مورجانې

دننه کوټې تـــــه چې ورغلم پلار مې تنها ناست وو، و مې ويل پلار
جانـــه اسلام عليکم پلار مې ځواب راکړو وېې ويل وعليکم اسلام ګلابه
زويه راغلې په خير .ځواب مې ورکړو هو پلار جانه راغلم .ويې ويل
راځه مـــور دې ډوډۍ راوړې کله مو چې ډوډۍ وخوړه بيا به يو څه خبرې
.ســـــــره وکړو

ما وويل سمه ده پلار جانه خو دا راته ووايه څه شې راتـــــه وايې .وې ويل
.اوس نه ډوډۍ مو چې وخوړه بيا درته وايم

زه هم غلی شوم او بله پوښتنه مې ترې ونه کړه مور مې ډوډۍ راوړه د
.ډوډۍ لــــه خوړلو وروستـــــه مـــې مور چاې هم راوړو

د راننوتلو سره سم يې راته وويل ګلابه زويه ته ښه خبر يې زه هم نوره
ورځ په ورځ سپين سرې کيږم او بــــــل تر څو به درته دا زړه مور او
.وريندار درته ډوډۍ پخوې

ګرانو دوســــــتانو د يادونې وړ ده چې دا هم درته ووايم مونږ دوه وررونه )
يو خور نه لرو ورور مې له مونږ څخه بيل ژوند کوي خو د ډوډۍ پخولو
لپاره به مې وريندار زمونږ کور ته راتلله او زما مورجانې سره به يې د
کور په کارونو کې هم مرسته کوله لومړې په همدې کور کې يو ځاى سره
اوسيدلو خو تر واده يو څه وخت وروسته مې ورور خپل حق واخيست او د
(کور په منځ کې مو ديوال وکړو

نو مورجانې او پلار جان مې دواړو راته وويل ګلابه زويه نور نو مونږ
تصميم نيولې چې تاته لخيره سره کوژده وکړو ما ورته وويل تاسو ولې
.دومره ورختا استی، تر اوسه خو لا وخت شته دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې خبره را پرې کړه او ویې ویل هغه د ماما زوی دې نولس کلن دی هغه دې هغه هم واده وکړو، او ته لا وایې تر اوسه وخـت شته.

ما ځان اخوا دیخوا کړو خو کار یې ور نه کړو بلاخره مې ورته وویل په یو شرط یې درسره منم دواړو وویل وایه په کوم شرط، ومې ویل که ستاسو کومه جلۍ خوښه شوه ما به حتما خبروی ځکه زه داسې په پټو سترګو نه غواړم کومې جلۍ سره واده وکړم.

زه مې په مور او پلار ډیر ګران وم، په همدې خاطر ویې ویل سمه ده زویـــــه ما هم ورسره ومنله، مور مې وویل زه سر له سبـــــا که خیر وي د جلۍ په لټولو پسې وځم .یوه ورځ دوکان ته روان وم چې د سلګۍ کور ته ورسیـدم ومــــې کتل سلګۍ په دروازه کې ولاړه ده او ډیره خفه ښکاریده ورنزدې شوم روغبړ، مې ورسره وکړو ریښتیا هم ډیره خفه وه ورته مې وویل سلګۍ خیریت خو دی ولې داسې خفه یې .ویې ویل کلابه نن شپه به په باغ کې سره ووینو بیا به هلته سره خبرې وکړو .ما ورته وویل سمه ده ستا خوښه نو زما خوښه ده .ویې ویل زه به هم ستا انتظار کوم ورته ومې ویل سمه ده اوس لاړه شه .سلګۍ وویل ښه، زما لونګه پر ځان دې پام کوه.

ما وخندل او هغه رانه لاړه، له هماغې ورځې مې تخلص لونګ انتخاب کړو.

د هغې له تګ وروسته زه هم دوکان ته روان شوم ، دوکان مې خلاص کړو، اته بجې بـــــه وې چې داود راغې وېې ویل سلام ګلابه ما د سلام ځواب ورکړو او ورته ومې ویل په خیر راغلې داود جانه، ویې ویل خیر اوسې ګلابه څه کیسې دې .داود زما داسې ملګری وه چـــــې زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو کې يې جوړه نه وه، داود تــــــه مې د ځان او سلګۍ په اړه د ـ الف ـ ځخه تر ـ ی ـ پورې ټوله کیسه وکړه په خندا کې يې وويل .ولا قارې صیب ته خو ډیر وران یې .ورته ومې ويل ځواني مرګه اوس چل راته ښايه چې څه وکړم .ويې ويل خـــــو مرکـه ور ولیږه.

ما ورته وويل یاره باور مې نه کیږي چې رابه يې کړي.

داود وويل ته خو يو ځل هڅه وکړه.

د سلګۍ پلار له نورو کلیوالو یو څه مالداره وو نو په همدغه خاطر يې ځان لږ جیګ ګڼلو، زما نه خوښیده ځکه ډیر کبرجن انسان وو، او تل به يې تروش او ګونځې تندی نیولی وو، نــــــه تنها زما بلکې د ټولو کلیوالو نه خوښیده .داود ټینګار کاوه ويل يې يو ځل خو جرګه ورولیږه.

ما هم د هو په بڼه سر ورته وخوځوو.

دغه ورځ هم بیګا شوه ماسختن شو ان لس بجې شوې دوکان مې بند کړو او د سلګۍ دوی باغ ته د تلو په نیت روان شوم هلته چې ورسیدم سلګۍ تیاره ځای کې په باغ کې ناسته وه وټوخیدم سلګۍ ورو وويل راځه ګلاب جانه زه دلته یم ورغلم يو او بل مو په غیږ کې ونیول ډیر وخت مو يو او بل سره په غیږ کې نیولي وو، چې سره بیل شو، ومې لیدل چې د سلګۍ اوښکې 😢 پر مخ رواني وې ورته مې وويل سلګۍ څه کیسه ده خیریت خو دی ولې داسې لکه د کوچني ماشوم دې زړه ډک دې او ژاړې.

بيا مې تر ې د ژړا د علت پوښتنه وکړه خو هغې هیڅ نه ويل او اوښکې يې پر مخ لا زياتیدې.

---

...... پاتې برخه ډير ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوسټ لایک او شیر کړئ.

خپل نظریات مو راسره د کمنټ په برخه کې شریک کړئ.

Nasirullah Fazli ⬅ فالومي

[7/31, 20:43] Sadat: ســــلـــګۍ ناول

برخه :6 شپږمه

سادات :ادمین

❤❤❤❤❤

دوکان مې بند کړو او د سلګۍ دوی باغ ته د تلو په نیت روان شوم هلته چې ورسیدم سلګۍ تیاره په باغ کې ناسته وه وتوخیدم سلګۍ ورو  وویل راځه ګلاب جانه زه دلته یم ورغلم یو او بل مو په غیږ کې ونیول ډیر وخت مو یو او بل سره په غیږ کې نیولي وو، چې سره بیل شو، ومې لیدل چې د سلګۍ اوښکې 😢 پر مخ روانې وې ورته مې وویل سلګۍ څه کیسه ده خیریت خو دی ولې داسې لکه د کوچنې ماشوم دې زړه ډک دې او ژاړې.

بیا مې تر ې د ژړا د علت پوښتنه وکړه خو هغې هیڅ نه ویل او اوښکې یې پر مخ لا زیاتیدې.

ما ورته د ټوکو ځخه وویل لکه چې زما په راتګ خفه شوی

سلګۍ راته وویل نه، که تا سره زه خفه کیږم خدای دې

مړه کړي.

زر مې د سلګۍ پر خوله لاس کــیښوده ما ویل چپ شه لیونۍ داسې خبرې مه کوه زه هم تاسره ډیره مینه لرم بې له تا که ژوندی هـــم اوسم نو د مړي په څیر  به یم خو اوس راته اوایه چې څه خبره ده چې ذاسې ژاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلګۍ په ژړغوني غږ وويل :خبره شوم چې مور دې  ستا د کوژدې لپاره
پښې را لوڅې کړې او کیدای شې ډیر ژر ستا کوزده له بلې جلۍ سره
وکړي.

له دې خبرې سره مې وخاندل او ورته ومې ویل هې لیونۍ زما خبره د کاڼي
کرښه ده، هیڅ کله به هم بغیر له تا بلې جلۍ سره واده ونه کړم .سلګۍ د
ژړا په سلګو کې راته وویل مور خو دې پر نورو کورو ګرځي.

ما وویل ګوره لیونۍ تاته ښه درمعلوم یم زه مې په مور او پلار ډیر ګران یم
ما ورسره )شرط (ایښې دې هغه داسې، چې مور ته مې ویلي که هر ځای
مو جلۍ خوښه شوه نو ما به پرې خبروی،  هغو هم راسره ومنل،  زه اوس
یوه لاره جوړوم چې ستاسو کور ته یې در  ولیږم.

ددې خبرېطپه اوریدلو سره سلګۍ خوشحاله شوه ویـــې خندل او په غیږ
کې مې را پورته کړه ، بیا مې ورته وویل زه سبا یا هم بل سبا تاته موبایل
اخلم کله چې دې زړه تنګ وو نو بیا ماته زنګ را وهه د زړه خواله به
پرې سره کوو.

سلګۍ نوره هم خوشحاله شوه ویې ویل کیمرې واله راته

واخله خپل عکسونه ورته هم تیر کړه چې کله نه یې راسره نو په عکسونو
به دې مینه ماتوم.

،د سلګۍ دوه عکسونه ما په هغه شپه ترې د خپل مبایل په  کمره واخیستل
اوس هم راسره دي هر وخت ورته په ژړا یم داسې وخت نشته چې زه ورته
اوښکې توی نه کړم.

په هماغه شپه تر دوولس بجو مو خوږ مجلس سره وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیخ مې نه هیریږي په ناز به یې راته ویل زما لونګه کله به زموږ واده وي هغه به کومه شپه وي، پسې یې زیاته کړه وېې ویل زما لونګ لالیه !کله به وي چې ستاسو په کور کې چای پخې کړم او پر یوه پیاله یې دواړه پـه خوند خوند او مینه سره د یو بل پر لاس وڅکو،.

ما ورته ویل الله ﷻ مهربان دی إن شاء الله ډیر ژر به ستا دا ارمان پوره شي.

له ډیرې خوشحالې څخه یې زه چپ کړم، ډیر له خوند ډک مجلس وو ان یوه بجه شوه نور مې ورته وویل بس دی لیونۍ څه خبرې به سبا ته هم پریږدو.

له مینې څخه په ډک انداز یې وویل زما خو زړه غواړي چې ټول عمر همداسې سره یو ځای ناست اوسو او هیڅکله هم یو بل ته د د تګ لفظ استعمال نه کړو.

سلګۍ دا هره خبره لکه زما د زړه د کتابچې څخه په لوستلو سره یې چې کړي وي، هیخ مې نه غوښتل چې دا وخت تیر شي او شپه پر سهار بدله شي، نه زما او نه د سلګۍ زړه کیده چې سره بیل شو او لاړ شو.

خو په دې هم دواړه پوهیدو چې نور مو دلته یو ځای پاتې کیدل له خطر څخه خالي نه دي، ځکه چې د شپې تور تم نور د سهار په روښنایې بدلیدونکې وو.

په ډیرې سختۍ مو سره خدا پامانی وکړه او خوږ له مینې ډک مجلس مو په دغه شپه )پای (ته ورسوو او دواړه خپلو کرونو ته ستانه شو، په دغه شپه ،ما هیڅ خوب ونـــــه کړو ځکه چې د سلګۍ دغه خبره به راته سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو ته کيدله، چې ويل يې زما ګلابه کاش چې ټول عمر ستا ترڅنګ وی،او هر وخت مې ستا ديدن کولی.

او ټوله شپه به د سلګۍ هغه په سرو شونډو خندا راته يادېدله او له دې سره به مې زړه په سينه کې بی واره په درزا شو، تر سهاره مې د بېګانۍ شپې يوه، يوه خبره او صحنه له ځان سره لکه د امتحان د درس تکراروه.

نور نو د شپې تور تم د سهار په په روښنايي بدل شوی وو د سهار دلمانځه وخت رانږدې شو، مور مې له هغه بلې کوټې را غږ کړو.

ګلابه زويه پورته شـــه لمونځ درنه قضاء نه شي.

ومې ويل ښه مورجانې پورته کيږم، نور نو پورته شوم او له اوداسه وروسته مې لمونځ وکړو .د دعا لپاره مې خدای ته لاسونه لپه کړل، او د زړه له تله مې سلګۍ په دعا کې له خدايه وغوښته، ما به تل لمونځ په مسجد کی کولو دا چې ټوله شپه ويښ وم نن مې لمونځ په کور کې وکړو.

له لمانځه وروسته، شا ته په ديوال تکيه شوم ,او يو ځل بيا د سلګۍ فکرونو په سر واخيستمه، شيبه لا تيره نه وه چې مور مې کوټې ته را ننوتله، ويې ويل ګلابه دا څو ورځې راته سم نه معلوميږې خير خو به وي زويه څه خبره ده.

ومې ويل نه زما خوږې مورې هيڅ خبره نشته يواځې لږ غوندې سذ مې درد کوي.

مور مې وويل نن شپه هم ناوخته کور ته راغلې .په خبره کې ور ولويدم او ومې ويل د اکبر کاکا په کور کې د کلي

ځوانان را ټول وه، زه يې هم غوښتی وم .نو ځکه هلته لږ غوندې ايسار شوم، زما مور په ډيرو خبرو پسې نه ګرځيدله وېې ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه ده نور تر ناوخته له کور څخه بیرون مه پاتې کیږه زر کورته راځه ما
..او پلار دې درته په اندیښنه کې یو

ما وویل سمه ده زما ګرانې مور جانې همداسې به کوم .وېې ویل راځه چې
چای تیار دی، د چای څښلو لپاره مو د پلار کوټې ته لاړو، له چای څښلو
وروسته مې مور ، پلار ته وویل ما په ټول کلي کې داسې جلۍ پیدا نه کړه
چې د ګلاب جـــــــان زوی مې لیاقت ولرې زه غلې وم پلار جان مې
وویل اوریدلې مې دې ، امیر خان هم یوه پیغله لور لرې یو وار به دې لیدلې
وه.

مور مې وویل هو سړیه ښه شوه چې را یاده دې کړه له ما خو بیخي هیره
شوې وه .او زیاته یې کړه، هغه سلګۍ نومیږې ډیره شایسته او با اخلاقه
جلۍ ده خو پلار نه یې ټول کلی سر ټکوې چې رابه یې کړي او که نه.

پلار مې وویل ته خو یو ځل ورکره د یو څو نورو ښځو سره ورشه، بیا به
زه د نارینه وو جرګه هم ورولیږم.

مور مې وویل ته څه وایې زویه.

و مې ویل ډیر درته سپین سترګی معلوم نه شم زما هم درسره خوښه ده.

،ویې وخندل په خندا کې یې وویل دا څو ورځې لږ سپین سترګی شوې یې
دا ځل مې پلار هم وخندل.

زه وشرمیدم او له کوټې راووتم، مخکې له دې چې دوکان ته لاړ شم د
سلګۍ لپاره مې د لیک په لیکلو شروع وکړه.

👇.د لیک په سر کې مې داسې ولیکل

---

مست لکه دریـــــــــاب ومه اوس نه یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شړنګ به د ربــــــاب ومـه اوس نه یمه

مینی دې ښایست نه داسې خلاص کړمه
ګل ومه ګــــلاب ومـــــه اوس نه یمه

سلام د زړه سره زما ګرانې سلګۍ هیله لرم چې پاتې شپه دې ښه په خوشحالی سره تیره کړې وي، او دغه ښایسته سهار او رنګینه ورځ هم په خوشحالې سره تیره کړې.

،تاته یو ښه خبر لرم نن مې مور ستاسوکور ته درځې او تا راته غواړې نور نو که د الله ﷻ رضا وه زمونږ خوبونه ریښتیا کیږي.

دغه لیک مې ځکه درته ولیکه چې نن ورځ در باندې ښه په خوشحالی تیره شي.

مینه درسره لرم

(ستا لیونی ګلاب، لونګ)

---

دوکان ته چې تلم خط مې یو ماشوم ته ورکړو او یو سلګون مې هم ورکـــړو ورته مې وویل دغه کاغذ سلګۍ ته ورکړه هغه هم ډیر په خوشحالی او په خندا سره واخیسته، او روان شو زه هم دوکان تـه لاړم ګورم چې له مخکې داود راغلی وو چې زه یې ولیدم ویې ویل ګلابه نن ډیر خوشحاله را معلومیږې ومې ویل انډیواله خوشحاله به نه یم نن د امیر خان کور ته جـرګه ور استوم ،دعاوې کوه چې زه بریالی شم، ویې ویل اللهﷻ مهربانه ذات دې ومې ویل بیشکه مهربانه ذات دی، خــــو امیرخان چندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی و لاکه راته ښکاري وېږ ویل ت خو خپله هڅه وکړه، بیا به نو ګورو ورسره.

داود ته مې وویل نن څم ښار ته او یو تیلیفون اخلمه .ویی ویل پر تلیفون څه کوې له تا سره خو شته دی.

ورته مې وویل یو چا رانه غوښتی دې.

داود وویل ښه چې داسې ده نو په شریکه به بازار ته لاړ شو.

ما هم ورسره ومنله.

---

...... پاتې برخه بیا ژر

پوسټ لایک او شیر کړئ.

خپل نظریات مو راسره د کمنټ په برخه کې شریک کړي فالومي
Nasirullah Fazli

[7/31, 20:43] Sadat: ســــلـــګی ناول

برخه :7 اومه برخه

سیدادریس"سادات :ادمین

❤️❤️❤️❤️❤️

داود وویل پر تلیفون څه کوې له تا سره خو شته دی.

ورته مې وویل یو چا رانه غوښتی دې.

داود وویل ښه چې داسې ده نو په شریکه به بازار ته لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.ما هم ورسره ومنله

،مور دواړه په ښه خوشحالۍ سره ښار تــه لاړو له ډیر چکر وهلو وروسته مبایل پلورنځي ته لاړو د دوکاندار سره د ډیرو ناندرو وهلو وروسته مو ترې مبایل په لس زره رړپۍ واخیسته.

. داود راته وویل ګلابه ډیري خرچي کوي

.ماورته وویل یاره داسې یو چاته یې وړم چــې تر ټولې دنیا راته ګران دی

داود هوښیار هلک و پــوه شو چې زه یې چاته اخلم وېې خـندل، بیا له هغې ورړسته مو په بازار کې نــور سامان هم واخیسته،او کلي ته روان شو.

ورځ تیره شوه او ماسختن شو، د ماسختن ډوډۍ مو وخوړه، له ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور وویــل نن د )سلګۍ (کور ته ورغلې وم پسې زیاته یې کړه د سلګۍ د مور سره مـــې خبره یاده کړه.

د )سلګۍ (مور راته وویل له تاسو بله ښه کــورنۍ نشته زما در سره خوښه ده، خو صبر وکړه چې د سلګۍ پلار څه وایې اوس کور کې نشته بیګاه ته راځې زه بــه خبره ورسره یاده کړم چې هغه څه وایې.

ما هم ورته وویل سمه ده دا خو ښه خبره ده، مور مې راته اویل ګلابه زویه زما خو سلګۍ ډیره خوښه شوه، ستا څرنګه خوښه ده.

مـــا ورته وویل زما هم درسره خوښه ده وېې ویل خدایﷻ دې دغه کار په خیر سره خلاص کړي، ما په زړه کـــې امین ورسره وویل.

نور زه له کور څخه بیرون په دې امید را او وتلم چې کیدای شي سلګۍ ووینم .خوشبختانه هغه مـــې ولیده او موبایل مې ورکړو، ساعت ته مې چې ولیده اته بجې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلګۍ ته مې وویل زه اوس ځم لا وختي دې خلک له مسجد څخه کورونو ته راګرځي چې څوک مو سره و نه ګوري، که خوښه دې وي په لس بجې به سره ستاسو په باغ کې ووینو.

سلګۍ وویل سمه ده، ما هم دغه خبره درته کوله خو ته له ما مخکې شوی.

خدای پاماني مو سره وکړه او زه ترې کور ته راغلم.

ساعت ته مې ولیده نهه نیمې 9:30 بجې وې مور ته مې  وویل مورجانې زما له داود سره لږ کار دې که اجازه دې وي د هغوی تر کوره پورې یو ځل  ورځمه.

مور جانې مې راته اویل ورشه خو لږ ژر راځه بیرته.

ومې ویل سمه ده کوشش کـــوم چې زر راشم..

اوس نو لسو بجو ته انتظار یم چې کله به لس بجې کیږي، یو څو دقیقې ورته پاتې وی خو دا څو دقیقې پرما داسې تیریدې لکه د کال، کله به د کوڅې یو سرته لاړم او کله به بل سرته، له ساعته مې یوه دقیقه هم سترګې نه اړولې.

بل اخره پوره لس 10 بجې شـــوې، زموږ د دیدن ځای معلوم وو، په همدې خاطر ز ه هم سیده ورغلم، خو دا ځل زه له سلګۍ مخکې باغ ته راغلم، څو شیبې وروسته سلګۍ هم راغله روغبړ مو سره وکړو.

سلګۍ راته وویل نن ستا مور زموږ کور ته راغلې وه زما مور سره یې تا لپاره زما د غوښتلو خبره یاده کړه،   مور مې ورته وویل چې بیګاه ته زما د پلار سره خبره شریکوي.

سلګۍ خبرو ته دوام ورکړو او ویې ویل، نن شپه له ډوډۍ وروسته مې مور پلار ته ددې خبرې یاداوري وکړه، غلې شوه او یو سوړ اسویلې یې وویسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په غمجنه لهجه يې وويل، خو پلار مې فقد دومره وويل نه غواړم زه مې لور دوی ته ورکړم.

مـــــا ورته وويل خير حوصله پکار ده تر اوسه خو لا د سندرې سر دې مه ورخطا کيږه ډاډ مې ورکړ او زياته مې کړه نور به په موبايل سره خبرې کوو.

سلګۍ وويل هو اوس ښه شوو، خو که پلار مې راسره وليدو نو مړه به مې کړي، ويې ويل زه به د شپې زنګ در وهم.

ورته مې وويل هر وخت چې د خبرو موقع درته برابره شوه، صرف يو مسکال راکوه زه درته زنګ وهم، او هو خپل نمبر او يو دوه عکسونه مې مبايل کې ثبت کړې دي.

سلګۍ وويل قربان دې شم زما لونګه ياره زماد اوربل ګله دا دې ښه کار کړی دې چې خپل عکسونه او نمبر دې په زما په مبايل کې ذخيره کړې دي.

لـــه ډير مجلس وروسته مو زړه نا زړه خدای پامانې سره وکړه او دواړه د خپلو کورونو په طرف لاړو.

سهار وختې پورته شوم اودس مې وکړو مسجد ته لاړم، ګل مير کاکا چې زموږ د کلي يو سپين ګيرې وو، له ما مخکې جومات ته راغلې وو او په لومړي صف کې ناست وو، له داخليدو سره مې سلام وکړو ، د سلام له اخيستو سره سم ګل مير کاکا راته وويل ګلابه داولې دې رنګ کې تغيرات راغلي دي، ما وويل کاکا تاته همداسې ښکاري هيڅ هم نشته.

ويې ويل نه زويه څه خبره خو شته .ورته مې وويل کاکا داسې کيسه ده چې غواړم يوه جرګه د سپين ږيرو د اميرخان کاکا دوی کور ته د ځان لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليږم، الله ﷻ دی ګل مير کاکا ته خير ورکړي ويې ويل زه حاضر يم نور سپين ږيري به هم له ځانه سره ملګري کړم.

ما ورته وويل خدایﷻ دې خير درکړي.

د پلار په شمول مې د کلي نور سړي هم جومات ته راغلل لمونځ مو په جمع سره وکړو، او له لمانځه وروسته کور ته راغلم.

د سهار چای مې وڅکه او دوکان ته لاړم، نهه بجې به وې چې زنګ راغې اوکی مې کړ ومې ويل بلې سلګۍ په يو ښکلې او زړه راښکوونکې انداز سره وويل سلام د زړه سره څنګه يې.

ما هم په ډيره مينه د سلام ځواب ورکړو او ومې ويل شکر ښه يمه، ته څنګه يې وخت په خير تيريږي.

سلګۍ وه ويل شکـــــر دې اوس ښه يم، ټوله ورځ دې تصوير ته داسې زير يم لکه ته چې په خپله راسره مخامخ ناست يې او راته وايې زه چې زه ګلاب يم سلګۍ تاسره مينه لرم.

ما په ټوکه کې ورته وويل

سلګۍ ډيره مه ورته ګوره هسې نه چې له نظره مې کړې.

👇!وېې خندل او دا لنډۍ يې وويلې

---

👀د سترګو ټول نظر په ما کړه

💔.لکه ويشتلې مرغۍ بيله يم مېينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو نظر مخې ته راشه

پرخۍ راپسې ګورې نه به یمه بیا به.

دا مې دمینې انتها ده

دخپل ګلاب تصویر په زړه کې ګرځومه

---

دومره خوند یې په غږ کې وو چې ما به ورته ویل ان تر

ماښام راته وایه ډیر خوند یې وکړ او ډیر په ښایسته او خوږ اواز یې راته لنډۍ وویلې.

👇.ما هم یو دوه لنډۍ ورته ډالۍ کړې

---

په زړه خفه سلګۍ ته وایه

چې ته خفه یې زه به څه خوشحاله یمه

ستا په تهمت کې هسې خوښ یم

لکه ماهي چې په اوبو خوشحاله وینه

---

ډیرې خبرې مو سره وکړې نور مو خدای پامانې سره واخیسته.

ټوله ورځ مې هماغه د سلګۍ د خولې ویلې لنډۍ له ځانه سره زمزمه کولې او هیڅ مې له ذهنه نه وتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇

...... پاتې برخه ډېر ژر

Nasirullah Fazli

[7/31, 20:43] Sadat: ســـــلــــګۍ ناول

برخه :8 اتمه

سیدادریس"سادات :اډمین

❤❤❤❤❤

ډیرې خبرې مو سره وکړې نور مو خدای پامانې سره واخیسته.

ټوله ورځ مې هماغه د سلګۍ د خولې ویلې لنډۍ له ځانه سره زمزمه کولې او هیڅ مې له ذهنه نه وتلې.

د همدغې ورځ په سبا مې مور بیا د سلګۍ دوی کور ته تللې وه له راتګ وروسته یې راته وویل ، د سلګۍ مور ډیره ښه ښځه ده زړه یې ډیر غواړي چې سلګۍ زمونږ د کور اینګور شي ، خو د سلګۍ مور په ډیر خفګان سره راته دا وویل، چې د سلګۍ پلار وایې چې زمونږ او د دوی تر منځ ډیر لوی فرق دی، او بله دا چې زه نه غواړم لور مې په کلي او بیا داسې غریبې کورنۍ کې ورکړم.

مور مې پسې زیاته کړه ګلابه نوره خوښه ستا د سلګۍ پلار یو ډیر د لالچ څخه ډک او زدي انسان دې فکر نه کوم چې په دې خبره دې راضي شي.

ما د ډاډ ګیرنې په پار ورته وویل خیر دې مورې ګورو به داسې په اسانه ځوک چاته خپله خور او لور ورکوي پلار ته مې اوایه چې یو ځل بیا د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین ګیري له ځانه سره کړي او ورشي.خدای مهربانه دې که دا ځل یې
ومني.

مور مې وویل خدای دی د امیرخان په زړه د رحم اوبه توی کړي، پلار
چې دی راغی زه به ورته اوایم چی د کلي سپین ګیري له ځانه سره کړي او
بیا ورشي.

له دې خبرو وروسته له کوره راووتم او د دوکان لاره مې ونیوله او او په
سلو فکرونو کې دوکان ته ورسیدم، دا ورځ نو پر ما له قیامته کمه نه وه ډیر
خفه وم شونډې مــې هم له ډیره غمه پترې نیولي وه، په دغــه فکر کــې
وم چې ځنګه سلګۍ د ژوند ملګرې کړم بیا مـې تلیفون راوویست او داود ته
مې زنګ ووهو ، زنګ تیر شو له لږ ځنډ وروسته مبایل اوکی شو.

داود وویـــل سلام ګلابه ښه یې اواز می اوری؟

ومې ویل یاره چیرته یې؟

داود وویل لومړې خو د سلام جــواب راکړه کنه بیا چې هرڅه وایې وایه.

ومې ویل وبښه وروره هیڅ فکر مې نه شو.

داود وویل خیر دی، دې ورځو کې بل ډول یې.

ما د زړه په زور مسکا وکــــــړه، ومې ویل زما دوکان ته راشه کار
درســـره لرم.

ویې ویل سمه ده درځم.

نور مو خدای پاماني سره واخیسته موبایل مــــی بند کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لا د داود سره د خبرو په فکر کې وم چې د سلګۍ زنګ راغې ما لـــه ځان سره وویل خدایه خیر کړی څه خبره خــــــو شته زړه نا زړه مې مبایل اوکې کړو.

ومې ویل اسلام علیکم له هغې خوا ښـخـــــه هم ځواب راغی.

ویې ویل وعلیکم ګلابه ښنګه یې ښه یې د زړه سره.

ما وویل شکر دی جانو ته خو به ښه یې دا اواز دې خوابدی را معلومیږي.

یو دم په ژاړه شوه په ژړا 😪 کې یې وویل ګلابه لکه چې هیلې مو خاورې شوې.

ما وویل څه خبره ده، لیونۍ کیږه مه لومړی خو خبره وکړه .ویې ویل پلار مې په هیڅ ډول نه مني، ویې ویل دوی ته مې لور نه ورکوم، بل یې دا هم ویلي دي چې زما ښار کې یو ملګری دی، هغوی به نن یا سبا سلګۍ پسې په جرګه راشي.

د سلګۍ دا خبره نه وه سم د ټوپک ډز وو .په زړه مې یو ډول درد شو موبایل مې له لاسه پریوتو، له سترګو مې اوښکې راغلې خو بیا مې موبایل راواخیستو، د ډاډ ګیرنی لپاره می ورته وویل لیونۍ ته لـــږ حوصله وکړه زه هڅه کوم ټول کارونه به سم شي .نـــــن بیا د سپین ږیرو جرګه در لیږم.

خو سلګۍ لا هماغسی ژړل د سلګۍ د ژړا د هر اواز سره به مې زړه د درد څړیکه کوله، هر څومره مې چې ځان کلک کړو خو بیا هــــم بی اختیاره مې له سترګو د باران په څیر اوښکې پر مخ راو بهیدلي نور نو موبایل مې وربانديې قطـع کــــړو په زړه مــــې د جدایې دردونه راغلل لږ وخت لا نه و تیر چې داود راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغبړ مو سره وکړو، وېې ویل ګلابه ډېـــر خوابدی یې رنګ دې هم زیړ شوی دی او سترګې دې ولــې سرې دي؟

وه مـــې ویل یارو هماغه غم او درد دی نور څه نشته.

ویې وپوښتل څه شوي دي.

ومې ویل داود جانه سلګۍ راته زنګ وهلې وو، ویې ویل

پلار مې نه غواړې چې ما تاته درکړي او دا یې هم وویل چې زه هیڅ نه غواړم د لور واده مې کلي کې وکړم، لور مې په ښار کې ودوم.

اوس تهووایه څه وکم سلګۍ ویل نن شپه له ښارڅخه ماپسې جرګه راځي، دومره یې وژړل چې زما له سترګو هم اوښکې را روانې شوې.

داود هم ډېر خفه او خوابدی شو ویې ویل زما غوندې ملګری لری زه چې دی اوس په درد ونه خوړل شم بیا به دی کله په درد خورم، زه ځم ملا صاحب پلار مې ستا پلار او د کلي سپین ږیرې د سلګۍ دوی کورته ورلیږم.

ما وویل کله، هسې نه چې د ښار جرګه مخکې را ورسیږي.

ویې ویل همدا اوس پلار سره خبره شریکوم هغه په کور کې

دې زه ورځم او ورته وایم.

ما ورته وویل یو کار وکړه هرڅه چې کوې لږ زر یې وکړه، ددې خبری سره داود د کور په لورې لاړه.

ما هم سلګۍ ته زنګ ووهلو خو جواب یې را نه کړو، درې څلور زنګه مې نور هم اوهل خو ځواب یې نکړه زما زړه ډېر ناراحته وو نو اخر مې د 👇میسج په لیکلو پیل وکړو ورته مې ولیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

سلامونه زما د ژوند ښکلا هیله ده راته روغه او جوړه وسې ❤️❤️❤️
،د زنګونو د ځواب نه راکولو له وجه مجبور شوم چې مسج درته ولیکم ،
زه تاته یو زیری لرم هغه دا چې ما همدا اوس د ډیرو کو ششونو وروسته
.وکړای شول چې همدا نن یوه جرګه ډیر ژر ســــــتاسو کورته درواستوم
خدای مهربانه دی که پلار دی دا ځل د کلي د سپین ګیرو مخه وکړي او
.جرګه ومني

بله دا چې ډیر غم مه کوه چې ناروغه راته نه شې د خپل بدن د غوښو
پریکولو درد زغملي شم خو ستا د خفګان درد مې زړه خوري او د زغم
.توان یې نه لرم

د زړګي سره ما او تا باید د یو بل تر څنګ لکه د غر د هر ډول مشکلاتو
په مقابلې کې ودریږو د زغم او حوصیلې څخه کار واخلو، که خدای کول
.بریا به زموږ وي

.د خدای په امان

(ستا لونــګ ګلاب)

---

👇له لږ ځنډ وروسته د سلګۍ لخوا مسج راغی لیکلي یې وه

---

❤️وعلیکــم اسلام زما لونګه یاره

هیله کوم د مبایل په نه جیګولو خفه شــــــوی نه اوسې خفګان دومره په
مخه کړې وم چې نه مې غوښتل چې یو ځل بیا د خپلو خبرو سره ستا زړه
.ودردوم او خفه دې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتيا، ستا د مسج سره مې لږ غمونه را کم شوه، خو دا غم لا راسره دی چې زما پلار به ستاسې جرګه ومنې او که نه، زموږ د يو ځای کيدو او ګډ ژوند ليدلي خوبونه به رښتيا شي او که نه، خدای دې وکړي چې دا ځل مې پلار ستاسې جرګه ومني او د هميش لپاره سره يو ځای شو.

نور دی په خدای سپارم.

( ستا د زړه سر، سلګۍ )

---

زه هم د دغه ميسج په لوستلو سره يو څه خوشحاله شوم ما ويل زه لږ خو د سلګۍ غمونه زما د خبرو سره کم شوه .جومات ته لاړم، دوه رکعته نفل لمونځ مې اداء کړو.

له سلام ګرځولو وروسته مې الله ﷻ ته عذر او زارۍ وکړې تر څو زما ژوند )سلګۍ (په خپل رحم او کرم سره ماته را کړي .له دعا وروسته مې په الله ﷻ توکل اوکړو او له جوماته را ووتم.

څو لحظې وروسته د داود زنګ راغی، ويې ويل ګلابه هيڅ فکر مه کوه د مــلا صاحب په شمول مې لس کسه سپين ږيري د اميرخان دوی کور ته ور واستول چې زما پلار او ستا پلار هم ورسره دې إن شاء الله دا ځل به کار وشي په خير، او ته به سلګۍ ته ورسيږې.

ددې خبر په اوريدلو مې يو ځل بيا په زړه کې نوي اميدونه لکه د ګل را و غوړيدل، او شکر مې وويست.

داود ته مې وويل مننه وروره تل راته ژوندی اوسې ستا دا ښه او احسان به په عمر کې هم هير نه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇

...... د سلګۍ ناول 9 نهمه او وروستۍ برخه ډېر ژر

پوسټ لایک او شیر کړئ.

[7/31, 20:45] Sadat: ســـــلــــګۍ ناول

برخه :9 نهمه )وروستۍ برخه(

سیدادریس سادات :اډمین

❤❤❤❤❤

یو ساعت وروسته د داود زنګ راغی، ویې ویل ګلابه هیڅ فکر مه کوه د مــلا صاحب په شمول مې لس کسه سپین ږیري د امیرخان دوی کور ته ور واستول چې زما پلار او ستا پلار هم ورسره دې إن شاء الله دا ځل به کار وشي په خیر، او ته به سلګۍ ته ورسیږې.

ددې خبر په اوریدلو مې یو ځل بیا په زړه کې د سلګۍ لاسته راوړلو تمه پیدا شوه.

داود ته مې وویل مننه وروره تل راته ژوندی اوسې ستا دا ښه او احسان به په عمر کې هم هیر نه کړم.

👇نوی برخه

نور نو اندیښنو په مخه کړې وم په زړه کې مې کرل ریبل کول، دا به مې له ځانه سره ویل هسې نه چې دا جرګه هم رخصت کړې او بیا انکار ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، بیا به لکه د لیونو ځان ته لړیا شوم ګلابه له خدایه خیر غواړه دا څه فکرونه کوي

دا لحظې نو پر ما لکه د قیامت تیریدې، زما او د سلګۍ د یو ځای کیدو نو دا اخري امید وو ، نو په همدغه وجه ډیر اندیښمن وم.

نور نو ځمکې ځای نه راکوو، داود ته مې زنګ او وهلو او ورڅخه مې د جرګې په اړه وپوښتل، داود ته را څخه په غمجنه لهجه وپوښتل چرته یې.

د داود د غږ په اوریدو سره مې د زړه درزا نوره هم زیاته شوله او په ورخطایې مې ورته اویل دوکان کې یم.

داود اویل زه همدا اوس دوکان ته درځم له نږدې به درته هر څه اوایم، له دې سره یې مبایل بند کړو.

د داود تر راتګه راباندې ځمکه او آسمان یو شو، داود له څو شیبو وروسته راورسیده، له رارسیدو سره مې په ورخطایی ترې و پوښتل داوده وایه کنه څه وشول، جرګه یې ومنله او که نه.

داود یو سوړ اسویلی وویست او په غمجنه لهجه یې وویل، امیرخان دا ځل بیا جرګې ته انکار وکړو، انکار خو لا څه کوې چې د جرګې مشرانو ته یې کنځلې هم کړې وی، او دا یې هم ورته ویلي وه چې نور زما په دروازې قدم هم کینږدئ، او دا هم واورئ چې زه مې لور په ښار کې د خپل ملګري ځوی ته ورکوم، ګلابه، بی غیرته امیرخان د جرګې مشران په ډیرې بی شرمۍ سره رخصت کړي وه.

د داود هره خبره را باندې لکه د ټوپک ډز لګیده، که د سلګۍ پلار مې دا وخت په مخ کې وای، نو د هغې په وژلو به مې هم زړه نه وی یخ شوی.

له هغې وروسته مې وغوښتل چې له سلګۍ سره ووینم خو نور زما او د سلګۍ لیده کاته هم ګران شول زما وضعیت هم ورځ تر بلې خرابیده تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بــــه غمجن او دردمند وم، داسې احساس به مې کوه چې زه هيڅ څوک نه لرم، ژوند مې لکه د دروند غر په اوږو بار وو.

سلګۍ يې پـــــه هماغه شپه د ښار څخه راغلې مرکې ته

ورکړه، د کور د غړو تر څنګ مې ټول ملګرې په تيره بيا داود له ما سره خفه وه، اوس نو ما په ژوند کې هر څه بايللې وه، او لکه بی له ساه تش جسد وم.

وروسته له څو ورځو د سلګۍ زنګ راغی، د زنګ د ليدلو سره مې بدن زيګ شو، کله مې چې زنګ پورته کړو نو سلګۍ د مايوسی په حالت کې وويل ګلابه ترڅو به دا غمونه او دردونه زغمو ولې يو څه نه کوې.

ما ورته په ځواب کې وويل، ما خو تاته د رسيدلو په خاطر له هرې شونې او نا شونې لارې کار واخيسته، خو ستا پلار راباندې هره لاره داسې بنده کړه لکه د زندان دروازه، ته اوايه زه نو څه وکړم.

سلګۍ وويل لونګه زه هم ستاسې په وړاندې مې د پلار هر انکار لکه د تناره لرګې داسې وسيځلم .خو لونګه زه يوه خبره درته کوم ايا ته يې منې.

ما ورته او ويل ته خو يو ځل خبره وکړه بيا به يې د منلو او نه منلو درته اوايم.

سلګۍ راته وويل نور نو په دې کلي کې ژوند کول سخت شو، راځه ګلابه چې له دې کلي دواړه چرته لرې لاړ شو.

زه ددې خبرېپه اوريدو سره هک پک شوم، له ويلو لپاره مې هيڅ خبره خولې ته نه راتله، غلی وم .سلګۍ وويل ګلابه اوری که نه، څه وايې خوښه دی ده راسره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

،چوپتیا مې ماته کړه او ورته مې وویل سلګۍ دا خلک بــــه څه وایې زموږ له تیښتې وروسته به زموږ کورنیو ته لوی پیغور جوړ شي، او بله دا چې چیرته به ځو.

سلګۍ ویل ستا خوښه که د دنیا هر کونج ته ځې ما خپل واک تاته در سپارلې.

ما په ځواب کې ورته وویل زما خو دغه کار ولاکه زړه او پښتونولي راسره ومني، زه نه غواړم یوه نجلۍ وتښتوم او د خلکو تر منځ په خپله او کورنۍ یې بدنامه شي.

سلګۍ پـه غوسه راته وویل که ستا فیصله همدا وي نو زما هم واوره، که هغه بل سره له کوژدې مخکې دی زما د وړلو غمه ونه خوړله نو بیا مې په هدیره کې ګوره.

له دې خبرې سره مې ورباندې چغه کړه، پام چې داسې خبره بل وار در څخه وا نورم.

سلګۍ په ژړا شوه وېې ویـــل نور نو ماته بغیر له تا ژوند کومه معنا نه لرې، اوس هم ځان په مړو حسابوم.

له دې خبرې سره مبایل قطع شو.

له دې زنګ وروسته سلګۍ تر دوه ورځو پورې زنګ را ونه وهو، پس له دوه ورځو ماسپښین مهال د سلګۍ زنګ راغې.

کله چې مې مبایل ځواب کړو زما د سلام سره سم سلګۍ په ژړا شوه، یوه شیبه یې ښه په ژړا زړه تش کړو، زما هم بې اختیاره پر مخ اوښکې روانې وی او د څه ویلو توان مې نه درلود، سلګۍ د ژړا په سلګو کې راته وویل زما لونګ ګلابه ما وبښه ما تاته هم ډیر غمونه جوړ کړه او د غمونو په دریاب مې ور ګډ کړې، همدا غمونه پر ما هم ډیر درانده شوه، تاسره د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کیدو امیدونه مې له خاورو سره خاورې شوه، دا ماته ډیره ګرانه ده چې ستا پر ځای بل څوک د خپل ژوند شریک جوړ کړم، پوهیږم ستا هم له وسه څه پوره نه دي، لونګه دا چې دواړه په دې ښه پوهیږو چې رسیدل مو یو بل ته ناشونې شو، او په دې هم پوهیږې چې بغیر له تا مې ژوند په هیڅ حساب دی.

ګرانه لونګه نور نو ماته کومــه بله لار نه ده را پاتې زه به دې په هغې دنیا کې انتظار کومه

👇او دا لنډۍ یې وویله

😥په اخرت کې جانان غواړم

په دي دنیا یې ظالمان نه راکوینه

پسې زیاته یې کړه ګلابه نور نو د تل لپاره در څخه ځم، د زهــــرو په خوړلو به ډیر زر ځان له دې سترړي او بې خونده ژوند څخه خلاصه کړم، زما لونګه تاته زما لخوا اجازه ده د یوې ښکلې انجلۍ په پیدا کولو سره واده وکړه او په خوښۍ دې ژوند پرمخ ویسه، د ورړستې ځل لپاره درته وایم زما لونګه مینه درسره لرم، په هغې دنیا کې به سره ووینو.

ددې خبرو په اوریدلو سره مې په سترګو توره تیاره شوه او له پوزې څخه مې وینه راغله، بې اختیاره مې له خولې چغه ووته پام کوه سلګۍ چې داسې ونه کړې، نور نو په ځان نه وم پوه شوی، یو وخت چې مې سترګې ، پرانیستې په روغتون کې بستر وم، په هوښ راتللو سره مې مور ،پلار،ورور او داود زما د لیدلو لپاره بسترخونې ته راننوتل

د هغوی په لیدلو مې هماغه خبرې بیا ذهن ته راغلې، یودم مې چغه کړه سلګــــــــــۍ، د چغې سره دوباره د بیهوشۍ حالت ته تللې وم، کله چې دوباره په هوش راغلم نو خپل موبایل مې و غوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې راته وويل چې مبايل دې په کور کې دى، څو شيبې وروسته ډاکټر راغی، د معايناتو له دوسيې کتلو وروسته يې راته وويل، اوس شکر دى مخ په ښه کيدو يې ترڅو چې په سمه توګه نه يې ښه شوى نو زيات استراحت وکړه او په مغزو دې فشار مه راوړه، ډاکټر مې مخ پلار ته واړوه هغه ته يې د درملو ليکل شوى نسخه ورکړه، هغه ته يې د درملو راخيستلو وويل او زما په اړه يې يو څه سپارښتنې هم ورته وکړې، او دا يې هم وويل چې د درملو راخيستلو وروسته کولاى شي چې مريض کورته يوسئ.

څو شيبې لا نه وى تيرى چې له روغتون څخه د کور په لور روان شو، په ټوله لار مې د سلګۍ په اړه فکر کولو اندېښنه راته پيدا شوه چې سلګۍ به څنګه وي.

کورته له رسيدلو سره مې سم له ټولو څخه د سلګۍ د حال پوښتنه وکړه خــو لـــــه هر چا به مې چې پوښتنه کوله، نو په يو بهانه به يې د ځان خلاصولو کوشش را څخه کولو چا به راته جواب نه راکوو غوښتل مې داود ته

زنګ وهم خو مور به مې له زنګ وهلو څخه منع کولم او ويل به يې چې ډاکټر يو څو ورځې له زياتو خبرو کولو منع کړى يې، مور به مې له خوا څخه هم نه خوځيدله په دى پوهيده چې زه به حتمې د احوال اخيستلو لپاره ،چاته زنګ وهم

د کور د غړو ددې رفتار په کتلو سره مې نوره هم د سلګۍ په اړه اندېښنه زياته شوه نه پوهيدم څه وکړم.

اخر مې داود تـــــه د پيغام )مسج (په ليکلو پيل وکړو ورنه مې وغوښتل چې د سلګۍ په هکله معلومات راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داود زما دوه درې پیغامونو ته هیڅ ځواب را نه کړو، په بل پیغام کې مې ورته قسم ورکړو ترڅو د سلګۍ په اړه راته معلومات راکړي.

داود چې پوه شو چې په هر ډول وي زه د ځواب غوښتونکی یم نو د پیغام ځواب یې راکړو.

ګلابه هیله ده چې د پیغام د پوره لوستلو څخه دمخه زړه لوی کړې او زغم وکړې.

ګلابه په کومه ورځ چې ته بې هوشه شوی وی، او ته مو روغتون ته ویوړلې له هغې څخه نیم ساعت وروسته مو خبر تر لاسه کړو چې سلګۍ خپل ژوند حق ته سپارلی دی ویل کیږي چې زهر یې خوړلي وه، دا چې ولی په دې نو ته له ما ښه پوهیږې.

دې پیغام لوستلو نو سم دم لیونی کړم، ژوند تیرول راته نور ستونزمن شوه، او د ځان وژلو په فکر کې شوم، د کټ تر څنګ مې د میز د پاسه د منو په قاب کې پر چاقو سترګې ولږیدې چاقو مې را واخیسته او بی اختیاره مې د چپ لاس رګ پری کړو.

مور مې چې په اطاق کې را سره وه ویې لیدم، زما د ورور د نوم په اخیستلو یې چغه کړه حبیبه زویه هله زر راشه چې ورور دې مړ کیږي هغه را منډه کړه لاس یې راته ښه کلک وتړلو تر څو د وینې بهیدلو مخنیوی وشي.

په بیړه یې روغتون ته ورسولم، او له مرګه وژغورل شوم.

که څه هم ژوندی وم، خو له مړو بدتره ژوند را پر غاړه شو، ورځ تر بلې مې رنګ توریده او د بدن غوښې مې توییدې .ټوله ورځ به د سلګۍ قبر ته ناست وم او لکه د لیوني به مې ورته د ژوند د ناحوالو قیصې او ګیلې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتیایي حالت به مې ورځ تر بلې خرابیده، لکه څرنګه چې په اول ځل په سترګو د تور تم او پوزې څخه د وینې د بهیدو له وجه بی هوشه شوی وم، اوس نو دی حالت سره به په ورځ کې یو یا دوه ځلې مخامخ کیدم او تر ډیره به بی هوشه ومه .په بدن کې مې بغیر له پوستکې او هډوکو نور څه نه وو پاتې ان د کور ماشومان به هم راته له ډاره نږدې نه راتلل.

کورنۍ مې چې زما پر دې حالت ډیره ځوریدله، زما د ښه کیدو لپاره چیرته چې ښه ډاکټران او ملایان وه زه یې ور وستلم، د کابل تکړه ډاکټران زما د ناروغۍ په تشخیص هیڅ پوه نه شوه، هغوی څه پوهیدل چې زما د رنځ دوا سلګۍ ده چې هغه په دې دنیا کې نه شته.

کله چې می ورور پوه شو چې د دې ځای ډاکټران مې له علاجه بیوسه دي، نو د علاج لپاره یې د پاکستان هیواد ته ویوړم، په زیاتو ډاکټرانو له ګرځیدو وروسته یو ډاکټر چې په پوهه او درملنه کې یې په پاکستان کې نوم درلوده، زما ورور ته وویل چې نور دې مریض د درملنې په خاطر په ډاکټرانو مه ګرځوه، ورور دې د سرطان په ناروغۍ اخته دې چې ژغورل یې صرف د الله ﷻ په لاس کې دي.

ډاکټر زیاته کړه چې ګلاب تاسې سره د یو څو ورځو میلمه دې شاید پنځلس ورځې نور ددې ناروغۍ زغم ولري، په دې ورځو کې یې خوشحاله وساتی.

یوه ورځ وروسته بیرته له پاکستان څخه کور ته راغلو، ناروغۍ دومره خراب کړی وم چې یواځې لږې شان خبری می کولی شوی، د بدن د نورو غړو تر څنګ مې لاسونو او پښنو هم کار پریښې وو.

کورته تر را رسیدو پورې زه لا د ډاکټر له خبرو نه وم خبر، هوا ګرمه وه زه په چپرکټ کې مې د ورور د کوټې د کړکۍ تر څنګ پروت وم .ورور مې په اطاق کې له ورینداري سره ناست وو او خبرې یې کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.وریندارۍ مې زما په اړه ترې و پوښتل چې ډاکټر څه ویل

ورور مې ورته د ډاکټر ټولې خبرې وکړې، او دا یې هم ورته وویل چې شاید تر پنځه لسو ورځو د ناروغۍ د زغملو توان ولري.

ما چې هر څه واوریدل، هغې دنیا ته د ورتګ او سلګۍ ته د رسیدلو په فکرونو کې شوم.

او خدای ته مې دا سوال وکړو، په دې دنیا مې چې کوم امیدونه نیمګړي پاتې شوه )سلګۍ ته رسیدل (خدایه په هغې دنیا یې پوره کړی.

د ډاکټر له وینا سره سم ورځ تر بلې مې د ژوند پور پریکولو او مرګ ته نزدې کیدم.

خو خوشحاله پر دی وم چې سلګۍ ته د رسیدلو ارمان مې بیا په زړه کې را ژوندی شو.

👇او د سلګۍ هغه ویلې لنډۍ را په زړه شوه

👩په اخرت به جانان غواړم

😠په دې دنیا یې ظالمان نه راکوینه

ورځې تیریدې د ډاکټر د ټاکلي نیټې یوولسمه ورځ وه او پنځه لسمې ورځې ته په انتظار وم.

...........

پای

👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇👇

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تاسو ټولو زړه ته را نږدې مینوالو څخه نړۍ مننه کوم چې په ډیره
حوصله او مینې مو راسره د سلګۍ ناول تر پایه بدرګه کړو.


کړي Share او Like او ځانګړې مننه له هغه ملګرو چې تل یې پوسټونه
له لارې له موږ سره شریک کړې دي Comment او خپل نظریات یې د.

که د ناول د نشر په جریان کې کومه غلطې یا داسې کړنه زموږ له لورې
ترسره شوې وي چې ستاسې د خفګان لامل شوي وي له تاسو ټولو څخه د
زړه له تله بښنه غواړم.

ستاسې په خوښه له نوي ناول سره ډیر ژر انشاالله.

ستاسې ورور 👈 منصور خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**